مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر
۲۰۲۳/۰۲/۱۷

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل

## د پاکستان رول

## (څلورمه برخه)

**د امریکا متحده ایالاتو ستراتیژي د افغانستان او پاکستان پر وړاندې**

که له یوې خوا پاکستان له امریکایانو سره د غولوني او غدارۍ سیاست پر مخ بیولو نو له بلې خوا امریکایانو پاکستان ته امتیازات ورکول. پاکستان له امریکا سره د ترهګرۍ پر وړاندې تش په نوم د یووالي ترون کړی ؤ چې له امله يې امریکا هر کال د ترهګرۍ د ځپلو په نوم یو نیم ملیارد امریکايي ډالر ورکول (چې په حقیقت کې د امریکا لخوا هماغه ورکړل شوي ډالر په افغانستان کې د امریکایانو او افغان ځواکونو په وژلو لګول کېدل.)

حامد کرزي له امریکایانو په ځلونو غوښتني وکړې، د دې پرځای چې د افغانستان په کلیو او بانډو کې بې ګناه خلک ووژنئ پر پاکستان فشار واچوئ چې د جګړې مخه ونیسي. له بده مرغه د افغان چارواکو غوښتني چا نه اورېدلې ځکه چې امریکایانو ته پاکستان د افغانستان په پرتله ښځوس ځله اهمیت درلود، دا خبره هغه مهال په ډاګه شوه چې انګرېز توکمه مرستیال ولسمشر سناتور جوزېف بایډن او سناتور لینسي ګراهام چې په ۲۰۰۸ز، کال کې«چې د اوباما د تحلیف مراسم لا نه وو ترسره شوي کابل ته راغلي وو، ښاغلي کرزي د شپې مېلمستیا ورته کړې وه، د ډوډۍ پر مېز د جنجال غږ پورته شو، بایډن له خپل ځایه پورته شو ویې ویل:**«ستاسو په تناسب موږ ته پاکستان ښځوس چنده ښه دی، دسمال يې وغورځاوه او له ارګه ووت.»** (بي، بي، سي، د جنورۍ ۲۰/ ۲۰۱۷ز)

«... دواړو امریکايي سناتورانو کرزي ته تونده لهجه کارولې وه او ګوتڅنډنه يې کړې وه چې د اوباما د اداري اړیکې به له ده سره هومره نرمې نه وي لکه څومره چې د بوش وي د بایډن خبرو د افغان مشرانو تر منځ د خطر زنګ وکړنګاوه او د کرزي شکونه يې نور هم ډېر کړل، د نوي امریکايي مشرتابه لهجه داسې وه چې کرزی ورسره روږدی نه ؤ.» (کای ایډه: په افغانستان کې د واک پر سر شخړه. ژباړن: سمیع الله ایلم. ۱۵۷مخ)

بایډن له پاکستان څخه د انګلستان د یو لوړ پوړي انګرېز چارواکي په خبر ملاتړ کوي، د بایډن له کړنو داسې ښکاري چې د پاکستان ګټې د امریکا له ګټو ورته ډېرې مهمې دي، بایډن نه یوازې د افغان چارواکو پر وړاندې له پاکستانه ناروا دفاع کوي، بلکې د امریکايي مقاماتو پر وړاندې يې هم د پاکستان په اړه نیوکې او رسمي پالیسی نه منلې چې څو بېلګې يې داسې دي:

«اوباما د خپلې ولسمشرۍ په لومړیو لسو ورځو کې د (سي، ای، ای) له پخواني تحلیلګر (بروس رایډل) څخه د افغانستان او پاکستان د وضعیت ستراتیژیک تحلیل وغوښت. دوې میاشتي لا تېرې نه وې چې رایډل ولسمشر ته وړاندیز وکړ چې په افغانستان کې د بغاوت پر خلاف ملکي، نظامي ګډ کمپاین اړین دی. همدارنګه (د کواښ پر اصلي مرکز، پاکستان) تمرکز په کار دی. د رایډل وروستی راپور د اوباما د ملي امنیت ټیم له خوا د ۲۰۰۹ز، کال د مارچ په نیمايي کې مطالعه شو، دغه راپور وړاندیز وکړ:«په افغانستان او په ځانګړي ډول په پاکستان کې دې د طالبانو شبکې [اړیکې له پاکستانه] وشلېږي؛ په افغانستان کې دې یو مؤثر حکومت تشویق شي، د افغانستان امنیتي ځواکونه دې پراخ کړای شي، پاکستان دې د طالبانو او یاغیانو له ملاتړه لاس واخلي په پاکستان کې دې د ملکي حکومت کنترول پیاوړی شي، امریکا دې ډیپلوماتیک نظامي او استخباراتي کانالونه په کار واچوي چې د هند او پاکستان تر منځ تاؤتریخوالی او دښمني راکمه کړي.»

«وړاندیزونو استدلال کاوه چې که امریکا د ترهګرۍ پر خلاف د کمپاین پوره ملاتړ وکړي او کافي سرچینې ورته ځانګړې کړي، باوري ده چې متحد ایالتونه به بېرته د چارو کنټرول تر لاسه او خپلې حیاتي ګټې به وساتي، **له**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مرستیال ولمسمشر جوبایډن پرته نورو ټولو جګپوړو چارواکو دغه وړاندیزونه تایید کړل.»** (علي احمد جلالي: د افغانستان نظامي تاریخ، ژباړن: متقاعد سترجنرال شېر محمد کریمي. ۵۷۶مخ)

هغه مهال چې د امریکا متحده ایالاتو چارواکو په پاکستان کې د ننه په ابېټ آباد کې د اسامه بن لادن پر استوګنځي د برید پلان جوړاوه، د اوباما مرستیال جوبایډن په پاکستان کې د ننه د عملیاتو مخالفت وکړ، بایډن، نه غوښتل پاکستان د اسامه بن لادن د شتون له امله په نړۍ کې بدنام او د یو ترهګر هېواد په توګه وپېژندل شي، د هغه مهال د امریکا د مرکزي استخباراتو مشر جان برینن وایي:«اوباما غوښتل د ټولو نظر واوري.» د څرخي الوتکې له لارې د برید په مخالفینو کې د هغه وخت د دفاع وزیر رابرت ګیتس **او مرستیال ولسمشر جو بایډن هم شامل وو** خو زیاتره چارواکي د دې برید طرفدار وو.» **(www.dw.com)**

د امریکا پالیسي بیا هم د پاکستان پر وړاندې ناکامه او بې اغېزې وه. د افغانستان د جمهوري نظام د ولسمشرۍ مرستیال امرالله صالح د پاکستان او امریکا تر منځ د عجیبو او مبهمو اړیکو په اړه وایي:«حامد کرزی چې د پاکستان له دوه مخي رول او د پاکستان پر وړاندې د بهرنیانو، په ځانګړي توګه د امریکایانو د نه غبرګون له امله تر ستوني رسیدلی ؤ، له امریکایانو یې پوښتنه وکړه:«پاکستان متحد دی که دښمن؟ خو ناټو [امریکایانو] ځواب نه شو ورکولی. ولسمشر حامد کرزي وویل:«دا چې پاکستان کولی شي ستاسو څخه پیسې ترلاسه کړي او هم مو ووژني، زه هم دا کار کولی شم.»

امریکایي ځواکونه لکه د ویتنام په څېر په افغانستان کې د سربېښو په ډنډ کې ښنتي وو، په دې موخه چې د سربېښو ډنډ (افغانستان) څخه په خیر او سلامتۍ سره ځانونه وباسي، هغه طالبان چې دوی په لومړیو کې خپل لومړۍ درجه دښمنان بلل، اوس یې خپل دښمنان نه ګڼل او په هېواد کې روانه جګړه د افغانستان او پاکستان ترمنځ معامله وبلله: په ۲۰۱۳ز، کال د جنورۍ په میاشت کې چې حامد کرزي په واشنګټن کې د امریکا د ملي امنیت مشاور، (توماس دانیلون) سره د (سي، ای، اې) د رییس او نورو لوړ پوړو چارواکو سره لیدنه درلوده، د ملي امنیت مشاور حامد کرزي ته وویل:«د ۲۰۱۵ز، کال وروسته زموږ له نظره طالبان نور یوه ترهګره ډله نه ده. موږ ستاسې له ځواکونو سره مرسته کوو تر څو وکړای شي په خپله ستاسو له دښمنانو سره وجګړیږي، موږ خپل ځواکونه له افغانستانه وباسو، زموږ لږ شمېر ځواکونه د افغانستان د ځواکونو سره د مرستې، زده کړو، او تجهیز په موخه پاتې کیږي، دغه ځواکونه په جګړه ییزو عملیاتو کې برخه نه اخلي، یو ډېر کم شمېر زموږ ځواکونه له ترهګرۍ سره د مبارزې په منظور په افغانستان کې پاتې کیږي.»

کرزي په ډېرې خواشینۍ سره له هغه وپوښتل:«که د طالبانو یوه ډله په کابل کې پر یو ښوونځي برید وکړي او زموږ ماشومان یرغمل کړي، آیا دا ترهګري ده؟»

دانیلون وویل:«نه. دا ستاسو کار دی چې له هغوی سره څه ډول برخورد کوئ، امریکا مداخله نه کوي.»

کرزي وویل:«که د پاکستانیو ځواکونو یوه ډله د طالبانو په جامه کې د افغانستان په ولسوالۍ، مثلاً په پکتیا کې برید وکړي او هغه ولسوالي اشغال کړي، دا ډول عمل ستاسو په نظر ترهګري ده؟»

د ملي امنیت مشاور ځواب بیا هم هغه ؤ:«نه. دا ستاسو خپل مشکل له پاکستان سره دی.»

کرزي له هغه وپوښتل:«ښه نو ترهګري ستاسو له لید څه ده؟»

دانیلون ځواب ورکړ:«که چېرې د امریکا تاسیسات لکه سفارت او نور امریکایي تاسیسات او امریکایان تر برید لاندې راشي، زموږ په نظر ترهګري ده او موږ خپله دنده بولو چې په داسې حالت کې خپله دفاع وکړو.» (ډاکټر رنګین دادفر سپنتا: سیاست افغانستان، روایت از درون، ۴۹۸-۴۹۹)

دا شان اوباما کرزي ته وویل:«... موږ نه غواړو ستاسو له خاورې پر موږ برید وشي خو موږ نه غواړو له طالبانو سره جګړه وکړو، موږ نه غواړو د افغانانو په منازعه کې مداخله وکړو.»

کرزي اوباما ته د نورو خبرو تر څنګ وویل:«یوه موضوع چې باید د پام وړ وګرځي، د پاکستان په خاوره د [ترهګرو] پټنځایونه د افغانستان لپاره بنسټیز د تهدید سرچینه ده، تاسو دا هم د افغانستان داخلي موضوع بولئ؟ او غواړئ په دې اړه څه وکړئ؟»

اوباما:«په دې اړه موږ ستاسو له ځواکونو سره په همکارۍ، د بېلګې په توګه: که حقاني تاسو تهدید کړي ستاسو سره په مشوره به د دوی پر وړاندې اقدام وکړو خو موږ نه شو کولی پر پاکستان برید وکړو، موږ نه غواړو پاکستان بې ثباته کړو، زموږ هیله دا ده چې پاکستان ستاسو په امنیت کې مرسته وکړي خو له بده مرغه چې نه یې کوي، موږ به په حقاني برید وکړو، دا کار احتمالاً له ترهګرۍ سره زموږ د مبارزې برخه ده خو که زموږ پر سفارت برید وشي او یا زموږ په کسانو برید ترسره شي، دا بیا بله موضوع ده. موږ پوهیږو چې د پاکستاني طالبانو تحریک په افغانستان کې فعال دی، زموږ نقش دا دی چې له ډیپلوماتیکې لارې دا مشکل حل کړای شو.

موږ پوهیږو تاسو او پاکستان داسې سیمې لرئ چې د کنټرول وړ نه دي، د افراطیت تهدید په پاکستان کې له کابل څخه زیات دی، پاکستان پیل کړی دی چې دا واقعیت وپېژنئ، زه فکر کوم دا د پاکستان په ګټه ده چې له تاسو سره همکاري وکړي.» (هماغه کتاب. ۵۰۷-۵۰۶)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امریکایانو له آره د افغانستان پر وړاندي تر دې کچې ناوړه او ورانوونکی نیت او پالیسي درلوده چې د سولې واک، د دې پر ځای چې افغان حکومت او طالبانو ته یې ورکړي د افغانستان پر ځای یې پاکستان ته ورکړی ؤ چې د دوی د حماقت او بد نیتی پایله ټولو ولیدله، هغه چې وایي:(چاه کن در چاه است) چې د خپلو احمقانه کړنو له امله یې ځواکونه په تېښته خلاص شول، د سولې په هکله د امریکا د ملي امنیت مشاورې سوزان رایس په ډاګه وویل:«له طالبانو سره د سولې خبرو پیل کول یا نه پیل کول په طالبانو او پاکستان پورې اړه لري.» (هماغه کتاب. ۵۵۳)

د امریکا او پاکستانیو چارواکو ترمنځ هغه خبرې اترې چې د دوی تر منځ د ستراتیژیک ترون په اړه په ۲۰۱۳ز، کال، د فبرورۍ په ۲۶مه نېټه په اسلام آباد کې ترسره شوي وې، له هغو څخه داسې ښکاري چې دواړه هېوادونه د افغانستان پر وړاندې مخالف دریځ لري، دغه مالومات افغان استخباراتو ته په لاس ورغلي وو چې افغان حکومت یې پر متحده ایالاتو باندې لا پسې بې باوره کړ... په دغو خبرو کې په کابل کې د پاکستان سفیر صدیق، امریکایي لوري ته وایي:«کرزی له دې امله چې موږ په افغانستان کې له ټولو مشرانو او ډلو سره اړیکې نیولي دي خواشینی دی، په داسې حال کې چې موږ په دې اړه شفاف برخورد کړی دی، کرزي له موږ غوښتنه کړې وه چې له ټولو افغان رهبرانو سره خبرې وکړو، د کرزي پر موضوع سربېره باید موږ خپلې تګلارې ته ادامه ورکړو، د افغانستان ملت غوښتونکي له تېرو ۶۵ کلونو راپدېخوا له پاکستان سره په دښمنۍ کې دي، تر دې چې طالبان هم دا ډول برداشت لري، کرزی هڅه کوي د پاکستان د مخالفو کسانو ملاتړ ولري، هغه د ځینو پښتنو مشر دی، نه د ټولو پښتنو.»

په پاکستان کې د متحده ایالاتو د سفیر مرستیال هاګلنډ یې په ځواب کې وایي:«یوازینۍ چاره چې موږ یې باید وکړو، هغه ده چې دغې انتخاب شوې تګلارې ته دوام ورکړو، پاکستان باید [په افغانستان کې] ټولو ډلو ته د نږدې کېدلو هڅو ته ادامه ورکړي.»

[د امریکا د سفیر مرستیال] د پاکستان د (آی، ایس، آی) له مرستیال څخه په همدې ناسته کې پوښتنه کوي:«له افغانستانه ستاسو اندېښنه څه ده؟» د (آی، ایس، آی) مرستیال یې په ځواب کې وایي:«موږ په افغانستان کې د هند له یرغلیز سیاسته اندېښمن یو چې زموږ د ګټو پر وړاندې کار کوي، د بېلګې په توګه: د دغه هېواد کړنې زموږ له پولې سره نږدې، د ملت پالو بلوڅو کمپونه د افغانستان په خاوره کې دي، همدارنګه د ملا فضل الله او مولوي فقیر محمد حضور په افغانستان کې زموږ اندېښنې دي.»

د دغو خبرو په پای کې د متحده ایالاتو سفیر د پاکستان له کړنو ملاتړ کوي وایي:«د امریکا متحده ایالات د پاکستان له هڅو، د یو متحد افغانستان او د [پاکستان] د صدراعظم او بهرنیو چارو وزیر اړیکې له ټولو افغان ډلو سره تاییدوي.» هغه د خپلو خبرو په اوږدو کې د سولې په هکله وویل:«... کرزی او د هغه د سولې عالي شورا نه شي کولی په خبرو کې مهمه برخه واخلي، د سولې پروسه اوربند، د طالبانو د دفتر پرانیستل، له ګوانتانامو د بندیانو آزادول، د افغانستان ټولو ډلو سره خبرو اترو ته اړتیا لري، د کرزي حکومت به یا د دغې تګلارې برخه وي یا به څنډې ته کېږي.» (هماغه کتاب. ۴۹۳)

نېټه:۱۴۰۱/۱۱/۲۷ل. ل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ